بســــــــــــــمل

۰۱ جنوری ۲۰۱۳

## ۲۰۱۲زکال دپوره روســـــوايي کال و

زه له هرڅه لمړی دنړی ملیاردملیاردوګرو ته دنوي ۲۰۱۳زکال مبارکي وایم او پاک رب ته لاسونه لپه کوم، چې دنړی خونخوارانواوجابرانوته دنیکۍهدایت وکړي ترڅو ټول بشريت په سوله اووروري کې ژوندوکړي اوس به د۲۰۱۲زکال خپله وروستۍلیکنه ستاسو درنولوستونکوحضورته وړاندې کړم.

په۲۰۱۲ز کال کې نړیوال باندې چې څیني يي نړيواله تولنه بولي يولړ داسي وېرووونکي کړني اوحملي ترسره کړې چې بې له خطرناکاومسلکي استخباراتي شبکودبل چا په وس نه وي پوره.

دلته به يي هسي يوه بېلګه تاسو ته راواخلم:

په کابل، لوګر، پکتيا اوننګرهارکې همزمانه حملي دکابل اداري دوېرولواوافغان ولس ته دټکان ورکولو لپاره ترسره شوې.

داحملي يې دحقاني په شبکه چې دوی ورته نوی رنګ ورکړی ورواړولي خو ټول پوهيږي چې ورروسته له اسامه بن لادينه بايديويبل اوسامه پيدا شوی وای.

دابه هيڅوک هم ونه مني چې دنړی يوقوي اومستحکم پوځي ترون چې نوم يې ناټو دی ديوولسوکلونو په موده کې يوازې ديوهېوادچې نوم يې افغانستان دی امنيت تامين نه شي کړای تامين څه چې له بده ورځخه بدترشي.

دپورتني منطق په بنيادويلای شوچې په ۲۰۱۲ز کال کې دمغرضوبهرنيانواوپه کـــور دننه غليمانوګډې توطيې بربنډې شوې.

د۲۰۱۲ز کال په لمړيوکې يوڅواجير واومزدوردېدورچيانونغاري وغربولي او هري خواته يې وېره خپره کړه چې که افغانســــتان له امريکا سره ستراتيژيک ترون لاسليک نه کړي نوکېدای شي له دې طلايي چانس څخه زموږ ه ګاونډيان ګټه پورته کړي.

ددې ګمراه کوونکوتبلغاتوپه ترڅ کې ښاغلي کرزي يوه لويه مشورتي جرګه دداسي کسانو په ګډون راوبلله چې په سـلوکې له نوي ۹۰څخه زيات غړي يې يادامريکايي قواووقراداديان ويادانجوګانوغړي اوياخويوڅو پلورل شوي کسان وچې له يوې خوايې په ۳۹ شمېره سرونه ماتول خوله بلې خوايې دهېواددملي ناموس قباله پرديوته په رسمي بڼه ورکړه.

دمزدوروډنډورچیانوارمان پوره اوترون لاسلیک شوخودپاکستاني راکتونولړۍ همداسي جاري پاته شوه . ددې ترځنګ دګورګین بجونو(ایرانیانو)په افغانســـتان کې دنړیوالوزوروروله شتون سره سره هراړخیزه تیري په موږ وکړل آن چي زموږ له پولي يي سرحدي نښي لرې کړې خو نه دستراتیژیک تړون اندیوالانو مخ وروا‌ړاو او نه خو دکابل نارینوو ځان وښوراوه.

ولسي جرګه خو مو پخپله ولیده چي دوزیرانو په ردولو او بیا لوړولو يي ټول افغانستان نړۍ ته وشرماوه.

دقضایه قوې، څارنوالي اواجرایه قوې بې کیفایتي اوپخپل ځان ملنډې خو تاسو پخپلو سترګو ولیدې نوآیا ۲۰۱۲ کال تاسو ته دپوره رسوایي کال نه ښکاري؟

په نورورسواییو به ستاسو وخت نه نیسم الله تعالی دې موږ ته له دغو ظالمانو څخه نجات راکړي.

دا دی ۲۰۱۳ زکال په خیر راغی وبه ګورو چي دکابل ولس دښمنه او تېل شوې اداره زموږ دپلرونو اونیکونو هېونه په چا پلوري ددې اداري په اړوند تاسو په لاندې لینک کې زما نظر لوستلی او اورېدلی شي.

[http://nakhtar.bloguna.tolafghan.com/posts/19310](http://nakhtar.bloguna.tolafghan.com/posts/19310)

یوځل بیا دزړه له تله دنوي ۲۰۱۳زکال مبارکي تاسو ته وایم

مننه

۲۰۱۲-۱۲-۳۱